www.goftaman.com

**نورمحمد غفوري**

# په یووالی کې قوه ده

ژوندی حــــرکـــت وکـــړه چـی بـدلــه زمـانــه ده

او پــاتـه څـنې نـــه شــې دا روانـــــه قـافـلـــه ده

چې لويږې بيا جګـيږه مخ په وړانــدې حرکـت کـړه

قــوي انســان هـغـه دی چـــې ئې ټـينګـــه اراده ده

نن پام کړه د پـرون غوښتنې نـــــورې زړې ښــکاري

ځـــان نوی کـړه افـغــانـه د ژوندون نوې خواسته ده

د سولې په لـور درومه د مشکل ګــريوان کړه څـيرې

واحـــد شه ســره يوشـــــه چې يــووالي کې قــوه ده

پرمخ ځه وړاندې ګـوره په شاتـګ کې ګـټـه نشـــته

بـدل ويـنم څـــواکـــونـه نـــوې رنګ مــبـارزه ده

هدف چې ژوندکې نه وی هغه ژوند خوشې عبث وي

په مړو کې ئې شميره چې ئې زړه کې مړه اسره ده

مأيوس نه شې هيڅکله (غفوری) متانت غواړي

د ســتر مـرام لـپاره ضرور ســتره حوصله ده